ماخذ تحقیقی مجلہ

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-17

OPEN ACCESS

CC BY NC

ﷴ روئيدار
پي ايچ ډي سکالر، پښتو څانګه ، پېښور پوهنتون۔
ډاکټر اصل مرجان
اسيسټنټ پروفېسر پښتو څانګه باچاخان پوهنتون چارسده
انور زېب
پي ايچ ډي سکالر، پښتو څانګه ، پېښور پوهنتون۔

# د رحمت شاه سايل د غزل لفظياتي نظام

**Muhammad Roidar***
PhD scholar, Pashto Department University of Peshawar.
**Dr. Asal Marjan***
Assistant Professor, Pashto Department, Bacha Khan University Charsadda.
**Anwar Zeb**
PhD scholar, Pashto Department, University of Peshawar.
***Corresponding Author:** roidarsahar090@gmail.com

## Study of the Word System of Rahmat Shah Sail

The system of words is the mirror of imagination and creative power of a poet, which known and analyzed by a reader or a critic. Words and meaning are basically connected to each other by the power of imagination and creativity. Sometime imagination brings new words with it, sometimes it gives new meaning to old words and sometimes it creates compounds by mixing of two words. Rahmat Shah Sail is a creative poet of our era who has presented his poetic imagination in such a coherent manner that in one side that in one side shows his intellectual discourse and in the other side he establishes a specific word system. In this article we have studied the word system of Rahmat Shah Sail that how this act is shown in his poetry and how it is connected with his imagination`s system.

**Key Words:** *Word System - Creativity - Imagination - Compounds Poetry - Intellectual - Culture - Pashtun - Land - Discourse.*

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-17
ماخذ تحقیقی مجلہ

د ادب او ژبې بو بل سره ټینګه رشته ده یعني بې له ژبې د ادب وجود رغېدل نا ممکن کار دے ـ د ژبې په وسیله انسان د داخلي فکرونو اخراج کوي ولې چې ژبه یو ذهني عمل دے ـ هم دغه وجه ده چې د نفسیاتو پوهان د یو لیکونکي یا ویونکي د نفسیاتو جاج هم د هغه د ژبې په ذریعه اخلي بلکې باقاعده د لسانیاتو یو شاخ یې شمېري کوم له چې یې د "نفسیاتي لسانیات" نوم ورکړے دے ـ لسان عربی ژبې ټکے دے چې ژبې ته وائي ـ د دغه ټکي نه لسانیات جوړ شوے دے چې د ژبې د توکیود سائنسي مطالعې نوم ے ـ ځکه چې ساینس یو مخصوص علم نه دے بلکې د هر هغه علم په معنا کښې اخستل کېږي چې مطالعه یې د مقرر شویو خاصو قاعدو لاندې ترسره کېږي ـ باقاعده اصول یې مرتب شوي وي ـ یعني د هغې مطالعې بېلابېلې مرحلې یو خاص نظم او ضبط سره تړل شوے وي او قطعي پایلې ترې اخذ کولے شي ـ په دارنګه مطالعه کښې ذاتي خوښه نا خوښه نه وي بلکې شے/حالت/کېفیت چې په واقعیت کښې څرنګه وي ، په هم هغه رنګ په اصلي/حقیقي شکل کښې مخې ته راوړل شي ـ لسانیات د ژبې غېر جانبدارانه ، مساویانه او د حقیدقت نه ډکه مطالعه وي ـ (۱، مخ: ۶۰)

لسانیات د ژبې څلور لویې څانګې ښئیي چې د صوتیات ، نحویات ، معنیات او لفظیات په نامه پېژندل کېږي ـ زمونږ د موضوع غرض د لفظیاتو سره دے او د رحمت شاه سایل په شاعرئ کښې لټول دي او بیا د هغې نه یو مربوط نظام ته اشاره کول دي ـــ

لفظیات :

عربئ کښې د لفظ لغوي معنا ګوزارول ( پهٔیکنا ) ده خو په اصطلاح کښې مراد د غږونو/اوازونو هغه مجموعه ده کوم چې د خلې نه یو په یووار وویستلے شي ـ اردو کښې ورته بول وایي او د بول معنامطلق اواز ده او اصطلاحي

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-17
ماخذ تحقیقی مجلہ

مراد تري هم دغه د غږونو/اوازونو ټولګه/مجموعه ده کومه چې د خلې څخه ویستلے کیږي ـ (۲،مخ:۱۱)

لفظونه/ټکي هم د یو شاعر په ځانګړي اسلوب رغولو کښې زیات کردار لوبوي ـ ځکه چې تر ټولو اول اسلوب د ټکیو هنرکارۍ ته اړتیا لري چې د یو اسلوب د اهمیت اندازه تري کیږدے شي ـ اسلوب چرته هم بې له زیاره په وجود کښې نۀ شي راتلے ـ په دا وجه د اسلوب څښتن د داسې ټکیو/لفظونو چوڼ کوي کوم چې هغه له دا باور ورکوي چې د خیالاتو ابلاغ به یې په موثر انداز وشي او خیالات به ورله نۀ ګډوډوي ـ

د ټکیو دغه چوڼ هم د موضوع/سرخط د مناسبت او د تحریر/لیک د داخلي غوښتنو په باور ترسره کولے شي ـ یعني مینه ، عشق او جنون که څه هم په خپل مینځ کښې یو نازک فرق لري او دغه فرق د وجدان په کچ محسو سوي، د ټکیو/لفظو نو په وسیله نۀ شي بیانیدلے ولې دا ټکي/لفظونه هم د یوې جذبې د اظهار د پاره په بېل بېل انداز کښې کارولے کیږي ـ هم دا لفظونه/ټکي د یو فنکار د شخصیت او د ذهني وابستګیو ائینه دار وي ـ یو تخلیقکار چې په کومو ټکیو/لفظونوکښې خپل تخیل بیاني د هغې د مطالعې نه دا اندازه کولے شي چې تخلیق کار د کوم او د څنګه مزاج انسان دے ـ دلته د ډاکټر بفن هغه تعریف خپل اهمیت ثابتوي چې اسلوب په خپله انسان دے ـ (۳، مخ:۲۰۵)

زمونږ د موضوع نه ښکاره ده چې مقصد مو د رحمت شاه سایل د ټکیو/لفظونو اسلوبیاتي مطالعه اود هغه ځانګړني لټون دے، یعني رحمت شاه سایل کوم او څنګه خپل اسلوب وضع کړے دے ـ دغه لفظیاتي مطالعه هله کیدے شي چې مونږ د هغه د کلام جاج واخلو او اوګورو چې رحمت شاه سایل په ابتدایي/وړومبۍ شاعرۍ کښې کوم لفظونه کارولي دي، وروسته یې د مصرعو او

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-17

شعرونو په ترتيب او جوړښت کښې کوم بدلون راوستے دے او که نه، او کوم نوي نوي لفظونه يې تر څومره ه حده د خپل کلام يا شعر په مصرعو کښې کارولي دي ـ خو دا مطالعه به تر ټولو اول دغه لفظياتي تجزيه مونږ دلته د لفظي صنعتونو د لاندې څانګو په ترڅ کښې کوو چې د ټکيو/لفظونو لساني محاسن/خوبۍ او معنوي ربط/تړون ترې په ډاګه شي ـ

تجنيس :

تجنيس هم جنس کېدو يعني يوځاے کول ته وايي چې مراد يې په کلام کښې داسې دوه ټکي/لفظونه راوړل دي چې هر څو په وئيلو کښې يو شان وي خو معنې يې جدا جدا وي ـ تجنيس په کلام/شعر کښې د حسن/ښايست پېدا کولو يو اهم صنعت دے ـ (۴، مخ:۷۸) د فصاحت او بلاغت پوهانو د جنيس ګڼ قسمونه بيان ښودلي ، خو دلته د ټولو بيانول زمونږ غرض او مقصد نۀ دے فقط لږه پېژندګلو او د سايل په کلام نه يې يو څو نمونې راوړو:

دا تور به يې يو ځل د
مينې تور راپورې کړي
انداز ته چې د ستا د
نازولو سترګو ګورم
(۵،مخ:۳۰)

ستا د مينې تور نه څنګ
ځان بچ کولے شم
ستا چې تور د سترګو نه
بېخي جدا کيدے نۀ شي

(۵،مخ:۶۱)

دواړو شعرونو کښې " تور" لفظ/ټکے په ورومبۍ معنا کښې د خپلې اصلي/حقيقي معنې يعنې د تور رنګ د پاره کارول شوے او په دويم صورت کښې د مجازي يعنې د تهمت د پاره استعمال دے ـ

تجنيس مضارع :

تجنيس مضارع ـــــ په کلام کښې هغه دوه

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-17

ټکي/لفظونه راوړل دي چې د توریو/حرفونو شمېر يې برابر وي ، فقط يو توري/حرف پکښې بېل وي (۶،مخ:۱۲۷)

خوند په انتظار کښې ترقېدهٔ او
پړقېدهٔ کړي
او ښکي د بڼو په سر ايساري
ښکلي ښکاري
(۷،مخ:۴۶)

چر ته ملالو سندرې چر ته ګلالو
کړې
دا د خاموشۍ په شونډو شور د
سرو ګلونو
(۸،مخ:۷۲)

شونډې په هر مخ يې د وريت
پريت خزان زېړه پاڼه
جانان په سترګو کښې تصوير د
پسرلو راوړے
(۸،مخ:۸۲)

وړومبي شعرکښې د " ترقيدهٔ" او " پړقيدهٔ " ټکي/لفظو نه خپلو کښې د "ق" او "پ" بېل ګوت لري ، که څه هم د دواړو ټکيو توري/حرفونه په يو شمېر دي ـ دغسې دويم شعر کښې د "ملالو"،"ګلالو" او په دريم شعر کښې د "وريت"،"پريت" ټکي خپلو کښې د يو يو حرف فرق لري ـ د تجنيس مضارع د دې ښکلو نمونو په ترڅ کښې د سايل د لفظياتي نظام ښايست خپل پخپله مخې ته راځي ـ

تجنيس زايد:

چې مراد ترې په کلام/شعر کښې داسې دوه يو رنګ لفظونه کارول دي چې په حرکاتو او سکناتو کښې برابر وي خو د حرفونو/توريو شمېر يې يو کښې کم او بل کښې زيات وي ـ (۹،مخ:۲۳۶)

د سترګو هر هنر په سر په
سترګو
څهٔ په وړه خبره غل کړي سړے

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-17
ماخذ تحقیقی مجلّہ

(۸،مخ:۲۸)

هېرې مې نهٔ کړې خدائے زده
ولې ستاپاګلې سترګې
ستا لېونۍ غزالې سترګې ستا
غزلې سترګې

(۸،مخ:۸۷)

اولني شعرکښې "هر"، "هنر" ـــ دويم شعر کښې "غزالې"،"غزلې" ټکي/لفظونه د "ن" او " ا" د زياتي له وجې خپلو کښې جدا شوي چې معنې يې بدلې کړې دي او شعرونو کښې يې معنوي ښايست هم زيات کړے دے او دا دلالت کوي چې سايل په ټکيو ښکه لوبې کړې دي ـ

تجنيس خطي:

په شعر/کلام کښې داسې دوه ټکي/لفظونه کارول چې قدرې د نقطو او اعرابو کمے زياتے پکښې راغلے وي او معنوي بدلون پېدا کوي ـ (۹، مخ:۲۳۵)

ستا سترګې خوَړېدې که خوړېدې
په هغه سترګو
د خپل فطرت د نمر نه چې ذره
جدا کېدې

(۵،مخ: ۱۱۹)

دې شعر کښې د "خوَړېدې " او "خوړېدې" ترمينځه د "و" د بره زور او پېش فرق دے چې معنې يې ورله خپلو کښې جدا کړې دي ـ سترګې خوړول يعنې سترګې مړول/خړوبول يا خوند اخستل او بل ځاے کښې خوړېدل معنا زخمي کېدل دي ـ

د لفظياتو په ترڅ کښې د تجنيس ددې څو مثالونو نه دا په ډاګه کيږي چې د هر تخليق کونکي تر ټولو اول مقصد/غرض هم دا وي چې داسې شاعري تخليق کړي چې تاثر ولري او ښايست پکښې پېدا کړي ـ هم دغه تاثر/تاثير او حسن بې د موثره لفظونو/ټکيو د استعمال نه نهٔ پېدا کېږي ـ خو دغه د لفظونو تاثير/تاثر په معنا د هغه لفظونو نهٔ دے کوم چې علمي يا مبهمې

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-17

ماخذ تحقیقی مجلہ

معني لري ـ ساده او كليوال ټكي هم خپل ځان كښې بلها معني او تاثر/تاثير پېدا كولے شي خو د فنكار په تخليقي قوت پورې اړونده وي ـ د رحمت شاه سايل ټول لفظونه ساده او كلي وال دي خود خپل تخليقي توان په زور يې داسې كارولي دي چې ځانګړے اسلوب ترې په ګوته كېږي :

"لفظونه د خيال جامه ده او سائل هغه ټې لر دے چې هم ددې وخت د فېشن نه خبر دے او هم د دې جامې د مزاج سره پوره پوره اشنايي لري ـ هغه هر لفظ داسې په صحي ځاے ږدي چې سړے ورته حېران پاتې كېږي او هم دا وجه ده چې د رحمان بابا د وينا برعكس د هغه هر شعر انتخاب دے ـ" (۱۰،مخ:۱۶)

دا د لفظونو/ټكيو استعمال سايل د خپلې تجربې او مشاهدې په اساس كړے دے ـ د هغه د شاعري په ورومبني دوركښې مونږ ته هغه لفظونه په كثرت سره په نظر راځي چې د مودو راسې په روايتي توګه يې استعمال كيږي ، خو د استعمال ځانګړي انداز دغو زړو ټكيو ته جدت وركړے او په معنو كښې يې نوے والے راوړې ، ولې بيا هم دغو لفظونه خپل زور تاثر او تاثر له لاسه نۀ دے وركړے ـ لكه ګل ، بلبل ،سپوږمى ،طوفان ، سپرلے او داسې نور بلا ډېر زاړه ټكي د سايل د ابتدايي دور شاعرى كښې موجود دي :

زما د زړۀ د زخم زخم ګلاب
غوړ نيولے
ستا د ځوانئ د ګل سندرې ته
ځلميه

(۷،مخ: ۴۳)

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-17


گل یې خندادې د فطرت په
غیږ کښې نه ځائیږي
د خپلې مینې د بلبل ترانې
نه پېژني

(۱۱،مخ:۱۲۶)

جنج د ځوستورو د سپوږمۍ
دډولۍ خیال له راکړئ
که مې دښې ګرېوان
تارتارنۀ کۀ سنګسار مې کړئ

(۱۲،مخ:۱۶۰)

ستا د یاد لښکرو هم په
نیمه لار کښې پرېښودم
مخې ته راتلونکې ؤ طوفان
یواځې پاتې شوم

(۱۲،مخ:۱۶)

ما خو د سپرلي دعا وه ستا
د پاره غوښتې
یاد دې راانه وانۀ خستو
ګل په تنهایئ کښې

(۱۳،مخ:۱۴)

دا هغه ټکي دي چې د هر دور تخلیق کارانو (منډوول) نزدې نزدې په یوه معنا کښې استعمال کړي دي او د خپل مقصد پاره یې کارولي دي ۔ خو څۀ لفظونه داسې هم دي چې ساېل یې په زیات شمېر سره انتخاب د خپلو تخلیقاتو د شکلا ګرځولو د پاره کړے او خپل کلام کښې یې خلاص مټ ځاے کړي لکه رېدے او غانټول یې لاندې شعر کښې څه دا رنګه استعمال کړي دي:

ټولې دنیا زما د ګوتو نه
تــرورلے نه دے

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-17

ماخذ تحقیقی مجلہ

زما رېدے، زما غانټول، زما
رېحان وطن
(۱۴،مخ:۱۹)

ځینې لفظونه بیا داسې هم دي چې هغه تش سایل کارولي دي یا چرته د شمېر یو څو شاعرانو یې استعمال کړے دے لکه "مونډے" ټکے که ووایم چې د سایل نه پرته بل چا نه دے استعمال کړے نو مبالغه به نۀ وي :

څه عجیبه دې په مونډي پناه
کېدې اوکتل
چا تصویر کړي دي په دې موړ
د هوسۍ سترګې

(۱۵،مخ:۱۴۲)
یا بل یو ټکے "پرکټے" یې داسې راوړے دے :

مونږ دواړه د تقدیر د
غلامانو پرکټي یو
مونږ دواړه زرګران یو او د
سرو په نرخ خبر یو

(۱۵،مخ:۱۴۳)

د دې سره سره "سوراړا" او "ناجاڼي" که نورو ځینو شاعرانو کارولي دي خو د سایل رنګه یې څه ووایو که کارولي وي:

مونږ خدائے خبر په
څنګه سوراړا بانډې
دېره یو
ګهرۍ نیمې له هم دلته
سپرلے نۀ پاتې کیږي

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-17


(۱۵،مخ:۴۷)

خال يې د وينو په مخ
ږدم راپکښې وينه نشته
کوم د ژوند ناجانې
تاوے ته سنګار ولاړ يم

(۱۶،مخ:۶۲)

يعنې د رحمت شاه سايل په کلام کښې لفظياتي نظام نه مونږ ته د هغه د خوښې لفظونه په ګوته کېږي او مونږ ته راښئيي چې د کومو ټکيو انتخاب يې د خپلې تخليقي لهجې سازولو د پاره کړے دے ـ هم په دغه ترڅ کښې د هغه په غزلونو کښې يوڅو هغه لفظونه هم د نمونې په طور دلته رانقل کېدے شي ، کوم چې د پښتو د شاعرئ عمومي ټکي دي چې د خپلې پښتونخوا د ځايونو ، شخصياتو او کلتور سره اړونده دي لکه ادم خان درخانئ ، يوسف خان شېربانو ، ملاله ، مېوند ، ملاکنډ ، سوات ، پېښور ، پير روښان ، خوشحال خان ، باچا خان ، چينار او چينه ، کچکول ، شپون او شپېلئ ، کنډاو ، کنډر او داسې نور ، د کومو په وسيله چې شاعري د خپلې خاورې سره تړي او ګنډي ـ دغه رنګه ټکيو د پاره يې د شعرونو راوړلو نه ډېره ځکه کوم چې دا بېخي د هغوي په لفظياتي نظام کښې په لوے شمېر سره موندل کېږي ـ دې سره نور هم داسې لفظونه/ټکي دي چې د سايل په شاعرئ کښې په کثرت سره موندل کېږي لکه نرګس ، مازيګر ، جوارګر، غر، للمه ، ساقي ، جرس ، زلفې، ګلشن ، حسن ، جبين ، زنځيز، ښاپيري ، موسيقي ، ځيګر ، کوڅه ، قاتل ، هجران ، وطن ، محبوب ، رباب ، جانان ، وصال ، بهار ، تندر ، طوفان او نور ______ دا ټول ټکي د هر شاعر سره شته دي خو فرق دا دے چې اول خو د سايل سره دا ټکي زيات شتون لري ، دويم د دې ټکيو د کارونې انداز د سايل د نورو نه بېخي جدا دے ، يعنې دغو روايتي ټکيو ته

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-17
ماخذ تحقیقی مجلہ

معني بدلي کړي دي ، نو ځکه يې مونږ ته د غزل په لفظياتي نظام کښې په ښکاره ډول ښکاري ـ ټکيو ته داسې معنوي بدلون يا تحرک ورکول په دې خبره هم دلالت کوي چې د رحمت شاه سايل شعوراو علميت پرمختګ کړے او د وسيع مشاهدې سره د لفظو نوذخيره د هغه د تخيل سره جوړ خوړلے نو بيا يې د تخليقي زور په بدل نه يواځې نوي نوي لفظونه کارولي، بلکې ډېرو زړو ټکيو ته يې معني بدلي کړې او بيا د کمال خبره دا چې دغو لفظونو نه يې يو شمېر ترکيبونه/مرکبات هم رغ کړي دي ـ

دلته د لفظياتو په اړه چې مونږ کوم بحث اوکړو او يا مو د کومو ټکيو په حقله مو د سايل په شاعرئ کښې تذکره يا مو پکښې اومونډل نو دا مونږ محض د ټکيو مطالعه ونۀ کړه بلکې د دغه ټکيو په تړخ کښې باقاعده د رحمت شاه سايل د شاعرئ يو ګرد وړد ډسکورس Discourse مو مخې ته راوړو ـ هغه ډسکورس چې سايل يې د خاورې سره ، د وطن سره ، خوار ، د غريب او ځپلي اولس سره تړلے دے او هم دغه وجه ده چې سايل تل پښتون قام پال او ځپلي اولس تش خپل غمخوار نه بلکې خپل شاعر ګڼلے دے ـ

## حوالې


1) ګوهر، اسماعيل، ډاکتر، پښتو لسانيات، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، جولائي ۲۰۲۱ء

2) سھيل بخاري، ڈاکٹر، اردو زبان ميں الفاظ سازي، مقتدره قومی زبان اسلام اباد، آغاجی پرنٹرز اسلام اباد، طبع اول، ۱۹۸۹ء

3) اشرف کمال، محمد، ڈاکٹر، لسانیات اور زبان کی تشکیل، مثال پبلشرز، رحیم سنٹر، پریس مارکیٹ، امین پور بازار، فیصل اباد،

4) يوسفزے ، مشتاق مجروح، زرکانے ، قلندر مومند ريسرچ سېل ، شپږم ايډيشن ،

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-17



۲۰۱۹ء

5) سائل، رحمت شاه، د لمبو په سیوري، پښتو ادبي جرګه، ملاکنډ، دانش خپرندویه ټولنه، ستمبر۲۰۱۴ء،

6) خټک، فضل میر، پروفېسر، فضلیات، اعراف پرینټرز محله جنګي پېښور، دویم اشاعت، ۲۰۲۰ء

7) سائل، رحمت شاه، ستا خبرې د سندرو سرنامې دي، پښتو ادبي جرګه ملاکنډ، منګل کتاب کور محله جنګي پېښور، دویم ایډیشن، ستمبر ۲۰۱۸ء

8) سائل، رحمت شاه، حالات چې اور وروي، پښتو ادبي جرګه ملاکنډ، څلورم ایډیشن، ۲۰۱۲ء

9) *سلیم شہزاد، فرھنگ ادبیات، (لساني وادبي اصطلاحات کاتوضیحي و تنقیدی مطالعه)، قومي کونسل برائے فروغ اردوزبان، نئ دھلی، پھلي اشاعت، ۲۰۱۸ء،*

10) نوید جمال، (مرتب) رحمت شاه سائل، فکر و فن او شخصیت (د همعصرو لیکونکو په نظر کښې)، ناچاپ ـ

11) سائل، رحمت شاه، تا به په خپل تصویر کښې څوک ځایوي، منګل کتاب کور محله جنګي پېښور، څلورم اډیشن، ستمبر ۲۰۱۸ء ـ

12) سائل، رحمت شاه، زۀ د خزان د پاڼې پاڼې سره اورېژ ېدم، منګل کتاب کور محله جنګي پېښور، دویم ایډیشن، ستمبر ۲۰۱۸ء ـ

13) سائل، رحمت شاه، غرمې لمبې لمبې، دانش خپرندویه ټولنه، پښتو ادبي جرګه، وړومبے ایډیشن، مي ۲۰۱۱ء

14) سائل، رحمت شاه، نرګس بیمار بیمار، دانش خپرندویه ټولنه، پښتو ادبي جرګه

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-17
ماخذ تحقیقی مجلّہ

ملاکنډ، وړومبے ایډیشن، اگست ۲۰۱۴ء
15) سائل ، رحمت شاه ، دړد چې د څړیکو څانگې اوسپړلې،پښتو ادبي جرگه ملاکنډ، ۲۰۰۵ء
16) سائل، رحمت شاه، د ویر په چم کښې وار د نغمو دے، دانش خپرندویه ټولنه پېښور، ۲۰۰۶ء